# زېری

**پنځلس ورځنۍ جریده**

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

**چهارشنبه ۷ـ ۸گڼه، درېمه دوره، پرله پسې گڼه، ۲۵۵ـ ۲۵٦، ۱۳۹۵ لمریز کال، د چنگاښ (سرطان) ۳۰ ،۱۳۳۷ه . ق. کال، د شوال المکرم ۳۰او د ۲۰۱٦ز . کال د جولای ۲۰.**


**«د یوې ټولنې فولکـلور موږ ته د هغــوی د پلــرونو، نیکونو او اجدادو کلتوري نورمونه او ټولنیز ارزښتونه بیانوي او د هغوی له کلتوري معیارونو او هدفونو سره مو اشـنا کوي. په همـدې توگه، فولـکلور انسانانو ته لارښــوونه کوي، ژوند ته معنی ورکوي او د حرکت سمت یې ټاکي.»**

**استاد حبیب‌الله جاج پښتون‌زوی**

د خورا پېرزو کوونکي او لوروونکي الله په نامه

**سرلیکنه**

## یواځې احسن تکرار منو!

د یوې ژبې په ښـکلا کې، ښـایي ډېر عناصر دخیل وي، خو د هغو له جملې څخه یو یې، په ژبه کې د رنگارنگ او ډول ډول متنوعو کلمو، لغتونو، روانو عبارتونو او لنډو جملواسـتعمال دی. کلونه کلونه کېږي، چې موږ د یو شــمېر دوســتانو له خولو نه «په مننې سره» چې د (باتشــکر) هو به هو ژباړه یې بللای شــو، دا لنډکی عبارت دومره په تکرار سره اورو، چې یو شـمېر درانه اورېدونکي بېخې ستړی کوي. په داســې حال کې، چې موږ د هغه پرځای «مننه، کور مو ودان، خیر یو سئ، مه خوارېږئ، خوښ او سئ» او دا سې نور په لسگونو لنډکي عبارتونه لرو، چې تر لومړي هغې ډېر ښـایســته او ښـکلي معلومېږي. همدارنگه، کله چې، یو څوک د رادیو او تلویزیون له لارې خبرې کوي، نو دا جمله زښــته ډېره وایي، چې «له کوم ځای نه مو اړیکه

# د تـحـقـیـق لـیـبل او لایـسـنـس

ــــــــــــــــ څېړنوال محمدنبي صلاحي ــــــــــــــــ

د څېړنې هدف، د حقیقت کشــف او د حقایقو معلومول دي، په علمي ډگر کې، د سرچینو، اخځلیکونو، منابعو او ریفرنس ورکول، له ډېرو تېرو زمانو نه، ډېر مهم بلل شــوي دي!

نن ســبا، په اکاډمیکو څېړنو، په ځانگړې توگه، د ولسي ــ ادبیاتو او فولکلور د راټولولو په ډگر کې، ان یوه لنډۍ هم بې ماخذه نه منل کېږي. دا حتمي بلل شــوې ده،چې هر څه ، د څېړنې لېبل او لایســنس ولري او د دغه لېبل او لایسنس عملي نمونه، داسې ښودل شوې ده:

نوم او تخلص ......... د پلار نوم ......... ولایــت ......... ولســوالي ......... کلی ......... عمر ......... قوم ......... د تلیفون شمېره .........

مگر دا ددې معنــا نــه لري، چې د پخوانیو پوهـانو او څېړونکو آثارو، د تحقیق لېبل او لایسنس نه درلود. هغوی هم یوه پته او ادرس لاره او د هغوی په څېړنو کې، د هغې پتې او ادرس روښانه یادونې شته. له شک پرته، د فولکلور په شمول، د څېړنې په ټولو ډگرونو کې، د وخت د متداولو او مروجو، دودیزو او عنعنوي ماخذونو له ورکولو نه گټه اخیستل شوې ده او دا مناسبه نه برېښي، چې د نن ورځې لـه عینکو، د هغوی پـه څېړنو، د تحقیق نوی لېبـل او لایســنس ولگوو، ځکه د هغوی تحقیقي آثار، د هماغو حالاتوزېږنده او محـصول دي. هر څه په خپل وخت کې، ځانگړې ارزښــت لري. اصــل خبره دا ده،چې هر څه د حالاتو او شرایطو تابع دي، پخوا د څېړنې امکا نات او و سایل دومره نه وو، لکه نن سبا چې لیدل کېږي. دا خبره ،لـه بلې خوا د کلتور تـابع هم ده. پخوانیو خلکو تـه، د کورنۍ د ښځو د نامه یادول عیب ښکارېده، په هغه وخت کې، د تیلفون اســانتیا او نور امکانات ، ډېر محدود و او یا نه وو او که وو هم، هر چا ورته لاس رسی نه درلود، ان گرځنده تیلفونونه، خو بېخي نه وو.

لکه څنگه چې په هر څه کې بدلون راځي او نړۍ د بدلون تابع ده، دغه ډول، د څېړنې په بهیر کې هم بدلون راغلی او د ریفرنس ورکولو یونوی معیار منل شــوی دی، چې گڼ پو هان یې مني او په خپلو فولکلوري او علمي څېړنو کې یې تعقیبوي.

د روښــانتیا له پاره ددې خبرې کول ضروري بولو، چې زموږ د گران هېواد د پخوانیو څېړونکو په تحقیقاتو کې، د ریفرنس ورکولو پوره ــ پوره خیال ساتل شوی دی. ان په ماخذ پسې ماخذ لټول شوی او دا لړۍ دومره تعقیب شوې ، چې لیکوال لومړنۍ سرچینې او منبع ته خپل ځان رسولی دی. هغوی په دې بر خه کې ډېر لوی تکلیف ته خپل ځانو نه ورکړي وو او زیات یې خپل ځانو نه زهیر کړي دي، چې ډېره ښــه نمونه یې، د علامه پوهاند عبدالحی حبیبي او اکاډمیســین علامه پوهاند عبدالشــکور رشــاد د ماخذ ورکولو ســیســتم دی، چې ان په ټول ختیځ کې بې ساری ښودل شوی دی. حتی تر دې، چې یو لغت په ۲۵ ژبو کې کتل شوی، سوابق یې لټول شوي، لومړی لیکوال د هغه د معنا په حقیقت ځان پوه کړی، بیا یې نورو ولسونو ته، باوري، مستند او دقیق معنا کړی دی.

ددې پـه څنگ کې ددغـه فورمول د نـه منلو کوښــښ ناکامول، ځکه په کار نه دي، چې نویو ربړو ته، د حل نوې لارې چارې او نوي مېتودونه رامنځته کېږي او دغه څېړندودونه، په هېوادنۍ، سیمه ییزه او نړیواله کچه باندې منل شــوي دي او موږ باید، له دې وروســته، د څېړنې له دغه منل شــوي اصـل سره، خپلې څېړنې برابرې او عیارې کړو. دا کار، نن ســبا ، په څېړنیز ډگر کې، زموږ د علمي څېړنو وزن زیاتوي ، هغو ته درنښــت ورکوي او د معیار پولې ته یې رسوي.

دنویو تحقیقاتو په ډگرکې، لومړۍ منبع ته ځان رســول، اوس هم خپل اصــا لت ســاتلی دی او د لومړي لاس سرچینې ځانگړې ارزښــت لري، مگر ټولې فولکلوریکې څېړنې، په گرځنده تیلفونونو پورې تړل او د هغو له لارې معلومات را ټولول، یو بې انصــافه او غیر علمي کار بلل کېږي، ځکه تیلفون کېدای شي، په دې لړ کې خپل اغېز ولري، مگر اصــل کار، په خپله ولس دی، مخامخ د هغوی خــولې دي او په دې برخه کې، د څېړنې خـــاص شرایط، اسرار او رموز په پام کې نیول او پر هغو باندې عمل په کار دی.

نیولې ده؟» که چېرې یو ویاند له شلو کسو سره تیلفوني اړیکې نیسي، نو د هغه له خوا همدا یوه جمله په تکرار سره ویله کېږي او که د شلو کسو له خوا ځواب ورکول کېږي، کټ مټ همدا سې ځواب ورکول کېږي چې «له فلاني ځای نه مې اړیکه نیولې ده .» په داسې حال کې چې و یا ند کولای شي، دا مفهوم په مختلفو بڼو سره ا فاده کړي. د نمونې په توګه :له کوم ځای نه خبرې کوې؟ له کوم ځای نه غږېږئ، له کوم ځای نه دې تیلفون کړی دی او داسې نورې په لسګونو جملې کېدای شي، چې په بل رنګ او ډول سره، هماغه مفهوم افاده کړي او په څنګ کې یې، دغه جمله هم کله نا کله ویلای شي، چې له فلاني ځای نه مې اړیکه نیولې ده. موږ د دې جملې د ویلو مخالف نه یو، یواځې بیا ـــ بیا او مکرر تکرار یې، تیلفوني مرکې بې خونده کوي او دا ضرور نه بولو، چې دا جمله دې بیا-بیا تکرار شي، ځکه که موږ یو وار بیا، په شـعوري توګه خپلې حافظې ته وروګرځو، نو هلته زموږ حافظه د هغې پر ځای، له نورو معادلو مفهومونو نه ډکه ده او د انسان ژبه ددې توانايي لري، چې په یوه بل ډول او لا ښــه رنګ او خوند سره هغه افاده کړي . تیلفوني مرکه هم،درنو اورېدونکو ته د معلوماتو ورکولو په خاطر، یوه لاربښـوونه، ژوند ته معنا ورکول ، د حرکت لوری(سمت) ټاکل او یو ځانګړی ارزښت دی. که تاسې یو چا، یوه مفهوم او یا یوه کار ته په ارزښت وکتل، هغه هم تاسې ته په ارزښت قایلېږي او که تاسې یوه کار ته په کمه سـترګه وکتل، هغه مو هم نه درنوي. له دې امله، په ټینګار سره ویلای شو، چې باید د مفهومونو د افادې او د ادبي او تیلفوني مرکو په دوران کې، ډېر داسـې څه شـته، چې زموږ په فرهنګ بدلېږي. نو د ښـو الفاظو بابول، ښــه او غوره فرهنګ دی او تکراري او موښـلي ټکي په ژبه کې اړول را اړول، زموږ او تاسې ژورنالیستیک، ادبي او علمي فعالیتونه بې اغېزې او بې خونده کولای هم شي ، چې په یوه شـعوري او اګاهانه پاملرنې سره کېدای شي، ان زموږ په تیلفوني مرکو کې هم، له دې زاویې یو نسبي نوښـت رامنځته شي او د تیلفوني مرکو د دواړه غاړو ترمنځ داسـې متنوع کلمات تبادله شي، چې د درنو اورېدونکو او لیدونکو له پاره هم په زړه پورې وي او د مرکې د مقبولیت، جذابیت او منښـت له پاره،ګټور ثابت شي.

# یوه علمي او څېړنیزه مقاله څنګه ولیکو؟

رحیم الله حریفال

نن ورځ په نړۍ کې بېلا بېلې علمي خپرونې شـته،علمـي مجلـې خپرېږي، علـمي او څېړنیزکنفرانسـونه، سـیمینارونه او سـیمپوزیمونه دایرېږي او دې ته ورته نورې علمي او عملي چارې سرته رسېږي. په هرحال، مقاله د علمي څېړنو په منځ کې د اساسي کړۍ ځای لري، چې په یوه علمي او څېړنیزه مجله کې چاپ او نشرېږي. تاسو به د علمي مقالې بېلا بېل تعریفونه اوریدلي وي ؛ مګر له دې تعریف سره به زیاتره آشنا یاست، چې علمي مقاله عبارت ده له :هغه څېړنیز کارڅخه، چې وړاندې له دې په هیڅ یوه ځای کې چاپ شـوې نه وي او لومړی ځل دی، چې چاپېږي او په یوه وتلې مجله کې، د یوه اصلي مضمون په توګه خپرېږي.

دلته یوه پوښتنه مخ ته راځي، هغه دا چې :

**ولې یوه علمي او څېړنیزه مقاله لیکو؟**

د یوې مقالې د چاپ ته رسـیدلو له پاره تاسـو کوم دلیلونه لرئ ؟

که چېرې تاسـو ډېرې خپرې شـوې او چاپ شـوې مقالې ولرئ، نوډېر به مشهورشئ ؟

ایا غواړئ، چې علمي کنفرانسونو ته لاره ومومئ؟

ایا غواړئ، چې امتیازات ترلاسه کړئ؟

کېدای شي، تاسـو پورتني دلیلونه، د یوې مقالې چاپولو له پاره ولرئ.

اما سم دلیلونه، نه دي؛ ځکه د یوې مقالې د چاپ له پاره تر ټولو مهم دلیل دا دی، چې تاسـو د یوه غوره علمي ټولي غړي یاست، چې هغه د ټولنې د علمي کدرونو او غړو ګروپ دی.

د علمي ټولنې د یوه غړي په توګه سـتاسـو دنده دا ده، کوم څه چې تاسـو یې لرئ، هغه باید ټولنې ته وړاندې کړئ او د نورو پوهانو مخ ته یې کېږدئ.

دلتـه یوه خبره د یـادولو وړ ده، هغـه دا چې کوم لیکوال، چې د علمي مقـالې پـه لیکلو کې یوڅه توانايي ولري ؛نو نوموړې لیکوال ته بیا نورې لیکنې هم اسانه کېږي.

**څنګه لیکل پیل کړو؟**

د لیکلو لپاره تر ټولو مهم د یوې طرحې موجودیت دی ؛ تاسـو وړاندې له دې چې لیکل پیل کړئ، مخکې له مخکې به یوه طرحه درسره وي، چې په هغې کې لغتونه په منطقي ترتیب سره مرتب شي او په مناسـبو ځایونوکې ځای ونیسي ـــ ؛اما تر دې هم وړاندې تاسـو باید په دې وپوهېږئ، چې د لیکلو له پاره څه لرئ او غواړئ څه وړاندې کړئ او یواځې په هغه حالت کې، چې تاسـو په لیکوالۍ کې تجربه ولرئ، کولای شئ، په لیکلو پیل وکړئ او پیل کړې موضوع پای ته ورسوئ. لیکن که د ویلو او لیکلو له پاره پوره مطالب ونه لرئ، نو ښــه مقاله نه شـئ لیکلای.

**ارزښت:**

هرڅه چې ټولنې او خلکو تـه ګټـه ولري؛ هغـه د اهمیت او ارزښت وړ وي، لو ستونکي هم، چې کله یوه مقاله لولي، ارزښـت یې په پام کې نیسي ـــ، چې څومره نوي مواد لري او له لوستونکو ور ها خوا، کله چې د یوې مجلې مـدیر او ایـډیټر تـه هم مقـالـه وړاندې کېږي، وړاندې تر دې، چې د مقالې په اړه لازمه پرېکړه وکړي، ګوري چې د مقالې موضوعات مهم دي او که څنګه ؟ نوي دي، ارزښـت لري او د چاپ وړ دي او که نه ؟ مخکې تر دې، چې تاسـو خپله مقاله نورو ته وړاندې کړئ، ځان ډاډه کړئ، چې ایا ستاسو مضمون د ارزښت او اهمیت وړ دی او کنه ؟ په لیکوالۍ کې بل مهم ټکی، چې ځانګړی ځای لري، هغه عنوان یا سرلیک دی، لکه څنګه چې مقاله د لیکوالي یو مهم ژانر دی، په مقاله کې بیا عنوان مهم دی او عنوان ته د یوې لیکنې خلاصه او لنډیز هم ویـل کېږي ؛همـدا عنوان دی، چې سـتاسـو مقاله له نورو مقالو څخه ځانګړې کوي او لوستونکي، د مقالې لوستلو ته را کاږي.

له عنوان څخه وروسـته، باید د هغو کسـانو په باب فکر وکړئ، چې سـتاسـو مقاله لولي، په دې فکر وکړئ او دا پوښـتنه له ځان څخه وکړئ، چې ولې هغوی ستاسو مقاله لولي؟

تا سو چې کله په مقاله لیکلولاس پورې کوئ، د دې له پاره، چې سـتاسـو مقاله ولوسـتل شي، په هم دې خاطر باید چاپ هم شي. زیاتره لیکوالان دې خبرې ته پاملرنه، نه کوي ؛هغوی خپلې مقالې ته د هدف په سـترګه ګوري، نو د دې له پاره چې ستاسـو مقاله ولوسـتل شي؛ باید په هغې مجله کې خپره شي، او هغه کسـان یې ولولي، چې تاسـو یې غواړئ ؛دلته هدف دا دی، چې مقاله هغه کسـان ولولي او د هغو کسـانو لاس ته ورشي، چې سـتاسـو د مقالې له منځپانګې او مفاهیمو سره مینه ولري او اړتیا ورته ولري ؛ نه دا چې په هره مجله کې د چاپ کېدلو امکانات زیات وي، په هغې کې خپره شي.

**خلک څه ډول مقالې لولي؟**

ډېر کم خلک دي، چې یوه مقاله انتخابوي او له پیله تر پایه یې لولي.

د مقالولوستونکي، په دوه ډوله وېشل کېږي :

۱-اتفاقي لوستونکي : دا ډله لوستونکي، له عنوان او د مقالې له لنډیز سره مینه لري. کله چې د مقالې عنوان ورته په زړه پورې ښکاره شي ؛نو مقاله تر پایه لولي.

۲- دا هغه ډ له لوسـتونکي دي، چې د مقالې له سطحي لو ستلو ورو سته، مقاله تر پایه لولي، چې له معلوماتو څخه یې ګټه واخلي او هغه رو شونه هم تر لاسـه کړي، چې تاسـو په خپله مقاله کې ورنه ګټه اخیستې ده، نو ویلای شو، چې لیکوال باید د مقالې عنوان او لنډیز ته هم پوره او ځانګړې پاملرنه وکړي.

**لنډه دا چې:**

د علمي - څېړنیزې مقالې لیکل، لکه د یوه کتاب لیکل، داسـې فن او مهارت غواړي او ور سره یې چاپ هم، دغومره څېرکي او دقت، نو ځکه یوه علمي -څېړنیزه مقاله یو اثر حسابېږي.

# د عبدالاحد وحید په شعر کې د وطن مینه

څېړنپوه محمد عارف غروال

مخکې تر دې چې د اروا ښاد عبدالاحد وحید په شـعرونو کې، له خپل وطن او خپلو خلکو سره مینه ولټوو، لازمه بولو،په لنډو ټکو کې د هغه د ژوندلیک په اړه لږ څه رڼا واچوو.

عبدالاحد وحید په ۱۳۱۲ هـ.ل. کال کې، د غزني ولایت د اندړو ولسـوالۍ د علیزو په کلي کې، د ملا عبدالخالق په کور کې، دې نړۍ ته سـترگې وغړولې، دا چې دده پلار په خپله یو دیني عالم و، نـو خپـل زوی عـبـدالاحـد وحـیـد یـې، د نورالمدارس په دیني مدرسـه کې شـامل کړ، چې تر فراغت وروسـته یې، په ۱۳۳۵ ه . ل. کال د سنايي په لېسه کې د ښوونکي په توگه وظیفه پیل کړه او تر ۱۳۴۲ ه . ل. کـال پورې یې د وطن بچیانو ته د دیني علومو د ښوونې چارې په خورا بر یالیتوب سره پر مخ بوتلې او بیا یې، د ۱۳۴۲ه .ل. کال د سنبلې میا شتې له ۲۲ نېټې نه ورو سته، د مطبوعاتو له لارې فرهنگي ډیوه بله وسـاتله او گران هېواد ته د زیاتو خدمتونو مصـدر وگرځېد، خو د ورپېښې شوې ناروغۍ له امله یې، د ۱۳۵۲ هـ . ل. کـال د زمري میاشـتې پـه ۱۳ نېټـه، د چهارشـنبې په ورځ، د سـهار په اتو بجو په څلوېښت (۴۰) کلنۍ کې له دغې فاني نړۍ څخه سـترگې پټې کړې او د الله(ج) د رحمت غېږې ته یې پناه یو وړه.

عبدالاحد وحید د شعر ویلو تر څنگ، په نثر هم لیکنه کوله او نثر یې هم دده د شعر غوندې خوږ، روان او عـامفهمـه و. زمـا د معلومـاتو لـه مخې، عبدالاحد وحید په شـعر او نثر لږ تر لږه لس آثار لیکلي دي ، چې له یوه اثر پرته چې چاپ شوی، نور ټول آثار یې قلمي بڼه لري او تر اوسـه پورې نه دي چاپ شوي.

په هر حال، دده دشـعرونو له مطالعې څخه په روښانه ډول معلومېږي، چې له خپل قام، وطن او خپل ولس سره بې کچه مینه لري، وحید هیله درلوده، چې هېوادوال یې د مینې، محبت، یووالي او پیوسـتون په رڼا کې ژوند وکړي، تر څو له دې لارې د پرمختـگ او ترقۍ لوړو پوړ یو تـه ورسـېږي، لکه چې په لاندې څو بیتونو کې، دده دغه سـپېڅلی احسـاس ډېر ښـه لیدی شـو، دی وایي :

پاڅه وکره شجر د اتفاق
حلاوت لري ثمر د اتفاق
تمدن او ترقي د ملتونو
دی همه واړه اثر د اتفاق
د مقصد پړاو ته خدایږو زر رسېږي
څوک چې پرانیزي وزر د اتفاق
نېکمرغي ناوې نصیب د هغه قام وي
چې په لاس کې لري زر د اتفاق
په پرده کې د معنا حقیقتویني
ذره بین دی هر نظر د اتفاق
د مقصد ناوې هغه په غېږ کې نیسي
چې تر منځ لري رهبر د اتفاق
د توپان خطر د هغې کشتۍ نشته
چې تیرېږي په گودر د اتفاق
د وحدت سبق شروع کړه اې وحیده!
ځان کړه پوه په زیر او زور د اتفاق

اروا ښاد وحید، د یوه مسلمان ملت آبادي، لوړتیا ، پرمختگ او د نړۍ له نورو ملتونو سره سـیال کېدل، د محمدي شریعت په سـمه لاره په روانېدلو او له حق څخه په دفاع کولو کې ویني او په دې باور دی، چې صداقت او پاک نفسي، دې مقدس هدف ته د رسـېدو له پاره یواځینۍ لار ده، لکه په لاندې څو بیتونو کې چې لیدل کېږي:

چې حق ویل حقه وینا کوي ملا هغه دی
صحیح وارث د پیغمبر ، صحیح پیشوا هغه دی
په صداقت سره خدمت چې کړي د خدای له پاره
مشر رئیس د قام دپاره خان آقا هغه دی
چې د غیرت وینې په جوش راولي حس ویښوي
خطیب هغه،واعظ هغه، شاعر دانا هغه دی
توره تر ملا ټوپک په لاس کفن تر سرگرځوي
وارث په حقه د ایمل او د دریا هغه دی
پر مخ روان وي په څټ نه گوري وحیده هرگز
زوی د پښتون او زمریالي میرویس بابا هغه دی

اروا ښـاد وحید په یوه بل شـعر کې، له خپل وطن او خپلو خلکو سره مینـه او محبـت داسـې څرگندوي :

په ځان د نورو سیاست نه منم
په خپل وطن بل حکومت نه منم
د ایمل خان او د شېرشاه په نامه
له سره تېر خو محرومیت نه منم
آزاد پیدا او روزل شوی یم زه
مرگ مې منلی اسارت نه منم
خوښ یم په شاړه پښتونخوا وحیده !
پردۍ باغچې ، پردی جنت نه منم

اوس چې اروا ښاد وحید زموږ په منځ کې نه شته، خو ارمانونه یې لا ژوندي دي او هر افغان بچی به، دا ثابته کړي، چې ددغو پاکو ارمانونو د عملي کولو له پاره ، هر ډول قرباني ورکولای شي.

# روښاني ادب

څېړنپوه عبدالرحیم بختاني خدمتگار

«روښــاني ادب» تر سرلیک لانـدې علمي-څېړنیزکتاب په۲۰۰۶ز. کال کې د ازبکسـتان جمهوریت د علومو اکاډمي له خوا په روسي ژبه په تاشـکندکې چاپ شـوی دی. د دې کتاب لیکوال د تاشکند ختیځ پېژندنې انستیتوت د پښتو ادبیا تواستاد پروفیسور عبدالرحیم منانوف دی.

کتاب د لیکوال په سریزه با ندې پیل کېږي او په سریزه کې لیکوال دروښـاني نهضـت او روښـاني ادبیا تو د پیدا یښـت، عواملو اوشرایطو ته او هم د دې ادبیاتو د خارجي او داخلي څېړو نکو له خوا د مطالعې او څېړنې تاریخ ته ځانگړی پام اړولی او د روښانیانو د صوفیانه تعلیماتو او ادبي حرکت په اړه یې څېړنه کړې ده.

د سریزې په اتم مخ کې دروښـاني غورځنگ او دروښـاني ادب په برخه کې د هغو روسي ختیځ پو هانو د څېړنو په اړه، چې د لومړی ځل لپاره یې په دې علمي برخه کې کار کړی دی، دا سې یادونه شوې ده: «م. گ. ا سلانوف د هغو لومړنیو څېړونکولـه ډلې څخـه دی، چې د روښــانیـانو د ټولنیز غورځنگ په اړه یې څېړ نه تر سره کړې ده. هغه په خپلو څېړنو کې دا ثابته کړه، چې بایزید انصـاري او د هغو پلو یانو اهداف، نه یواځې د خلکو د آزادۍ له پاره مبارزه وه، بلکې هغوی د خلکو ترمنځ د برابرو حقوقو غو ښتونکي هم وو. دروښـانیانو دغه نظریات په راتلونکي کې نورو څېړونکو لکه ک.۱.انتونو ویچ، ی. م. ریسنر او و. ۱. رومودین هم په خپلو علمي څېړنو کې انعکـاس ورکړ. دریسـنر او د هغـه علمي همکارانو په څېړنو کې د دې دورې سـیاسي او اقتصـادي حالات په ژوره توگه ترڅېړنې لاندې نیول شوي دي.»

له سریزې نه وروسته، د کتاب متن پیلېږي. نوموړی کتاب نهه فصـلونه لري. د کتاب د محتویا تو په اړه، دکتاب په ۳۵۴مخ کې داسې یا دونه شوې ده:

«د کتاب لومړی فصـل « بایزید انصـاری » نومېږي اودوې برخې لري: ۱- د بایزید انصاري ژوند او تالیفات. ۲- د بایزید نصاري تعلیمات.

دوهم فصل « د بایزید انصاري خیرالبیان د ۱۶ پېړۍ د ژبې او لیکنې ادب ممتاز یادگاري اثر په حیث »بلل کېږي او هغه له درېو بر خو څخه عبارت دی: ۱-د پښـتو ژبې لومړی لر غوني تحریري آ ثار او خیرالبیان. ۲- دخیرالبیان خطي نسـخې او جوړښت یې.۳- د خیر البیان د ژبې او ادبي سبک مسئلې.

دریم فصـل «روښـاني شـاعران »نومېږي. په دې فصـل کې د ارزاني خویشکي، وا صل رو ښاني، میرزاخان انصاري، علي محمد مخلص، دولت لواڼي، کریمداد روښـاني ژوند او د دوی چاپي او قلمي آثارو په اړوند مسئیلو څخه بحث کوی. همدغسې د نورو روښاني ادبي مکتب پورې اړه لرونکو د ۲۷ تنوشـاعرانو دتالیفاتو او ژوند په باره کې معلومات او څېړنې وړاندي کېږي.

د څلورم فصـل عنوان: « دروښـاني شـاعرانو په اشـعارو کې د وحدت الوجود د فلسفي مو ضو گانې او تمثیلونه » دي. دغه فصل اوه برخې لري او لاندنې مسئلې پکې څېړل کېږي:

۱- خدای (تعالی) حقیقت. ۲ -انسـان او د هغه مناسـبات له حقیقت سره. ۳- خدای (تعالی) او محمد (ص). ۴- زړه. ۵ - پیر.۶- د بایزید انصاري سیما. ۷-فنا او بقا.

په پنځم او شپږم فصلونو کې د رو ښاني شاعر انو اجتماعي، اخلاقي او د آخو ند در وېزه په څېر علماوو په باب لیکل شوي اشعار تر څېړنې لاندې نیول کېږي.

په اوم فصل کې د رو ښاني شاعرانو په دیوانونو کې موجود د ا شعارو دا سې ډولونه، لکه: غزل، قصیده، مثنوي، رباعي او د نورو مقام او په پښتو ادب کې د دوی پیدایښت او جوړ ښت او بـدیعي اړخونـه یې تر څېړنې لانـدې نیول شـوي دي. همدا سې د ا شعارو نوموړی شکلونه پښتو ادب ته د داخلولو او خپرولو په لاره کې، د رو ښانې شاعر انو هڅې او خدمتونه ښودل کېږي.

اتم فصل د رو ښانیانو په ا شعار و کې د وزن څېړلو مسئلې ته ځانگړی شوی دی او د هغوی د ا شعار و په ا ساس د پښتو په کلاسـیکي ادبیاتو کې د خج ( د سـیلابو ټونیک )د وزن شـته والی تصدیق کېږی.

نهم فصل: « په ۱۸او ۱۹ پېړیو کې د رو ښانیانو پر ضد راپیدا شـوي صـوفیانه مذهبي او دنیاوي تاریخي ادبیات » نومېږي. پـه عمـده ډول د آخونـد درویزه مخزن السـلام، تـذکرْ ة الابراروالاشرار، ارشادالطالبین همدا سې د هغه له پیروانو څخه د عبدالکریم، عبدالحلیم، آخو ند قاسـم او د نورو مؤلفانو تالیفات څېړل کېږي. په دې فصـل کی لا د خوشـحال خان ختک، افضـل خان ختک، د بابري امپراتورانوپه دربار کې د روښـانیانو په باب لیکلي تاریخي آ ثاروته هم گوته نیول کېږي.

د کتاب په پای کې هیله کېږ ي، چې په نژدې راتلونکي کې له روښـاني شـاعر انو څخه د ارزاني خویشـکي، علي محمد مخلص، کریمداد روښـاني، آدم روښـاني او آخوند میاداد قلمي دیو انونه د متن پېژندنې له پلوه تحقیق او چاپ شي.

په پای کې د کتاب لیکونکی د زړه له کومې غواړی، چې د هغو افغاني مشـهور ادب پېژندو نکي هر یوه: زلمی هېوادمل، دوسـت شـینواري، معتمد شـینواري او نامتو شـاعر او لیکوال څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتگار څخه د هغوی د مشـورو، هلو ځلو او مرسـتو له کبله، چې د دې کتاب د لیکلو په اړوند یې پ خپل وخت ورسره کړې دي، مننه څرگنده کړي.

په دې کتاب کې نژدې د ۴۳۶ پښـتو، دري، انگریزي، روسي او اوزبکي منابعو او ما خذونو څخه گټه اخسـتل شـوې ده. نوموړی کتاب درو ښاني غورځنگ او رو ښاني ادب په برخه کې خو را گټور علمي – څېړ نیز اثردی. د دې ارزښـتمن تاریخي او ادبي اثر په اړه زما وړاندیز دادی، چې دا اثر با ید دافغانستان د علمي او څېړ نیزو ادارو لکه: علومو اکاډمي اویا کابل پوهنتون له خوا په پښتو وژباړل شي، تر څو د افغانستان څېړونکي، ا ستادان او مینه وال، له دې علمي او ارز ښتمن اثر څخه علمي گټه تر لاسه کړي.

□ □ □

څېړندوی فریدالله نوري

**د شاعر شعر**

شعر د شاعر دید او نظر ښکاربري
خلکو ته پټ غوندې منظر ښکاربري
چې شاعر وایي، بیا معنا هم لري
که بوټی،کاڼی وي،که غر ښکاربري

**د شاعر کارونه**

شاعر یوه شېبه آرام نه لري
د ده کارونه هېڅ انجام نه لري
خو چې ژوندی وي،بیا لیکنې کوي
مال و متاع ته،دی هېڅ پام نه لري

**دشاعر فطرت**

نه ښه خوراک او نه پوشاک غواړي
نه واکمني او نه هم واک غواړي
دا د شاعر دی،فطرتي صفت هم
نه څواکمني او نه هم څواک غواړي

**د شاعر تعریف**

شاعر په څېر د بې آزاره مرغه
د یوه داسې بې قراره مرغه
چې د بچو په سوچو ناست وي مدام
له حده ډېر وي انتظاره مرغه

**د شاعر حوصله**

شاعر د غرونو حوصلې لري
شاعر هم عزم ارادې لري
همدا شعرونه ماتوي زړه کاڼي
شاعر همداسې فیصلې لري

**د شاعر عادت**

خلک ویده وي او خوبونه کوي
شاعر وي ناست، مدام سوچونه کوي
دا د شاعر او بل انسان توپیر دی
یو چې بې غمه،بل غمونه کوي

**د شاعر هیله**

شاعر د سترو امېدو په فکر
شاعر د نویو مرحلو په فکر
شاعر فکري انقلابونه غواړي
شاعر مثبته بدلونونه غواړي

**سوله**

سوله هم ماته او هم تاته په کار
هم ده امي او هم ملاته په کار
سوله زمونږه ارماني غوښتنه
سوله د دې هېواد بقا ته په کار

# موبایل او ادبیات

د شمشاد لیکنه

دېوال سوری کړه گوتې را کړه
پلار دې خټگر دی بیا به جوړ کړي دېوالونه

دا لنډۍ، که له یوې خوا، د پښتني کلیوالي مینې عکاسي کوي، له بله پلوه، د دوو مینو تر منځ، په کلیوالي وسایلو، د کلیوالي مینې ښکارندويي هم کوي.

د وخت په تېرېدو سره، چې یو څه لیک لوست عام شول، وده او پرمختگ یې وکړ، نو بیا گڼو کسانو، سپینو کاغذونو ته هم لنډۍ وویلې، لکه دا لاندې پښتو لنډۍ:

تر ما خو ته ښه یې کاغذه!
زه به دلې یم ته به وکړې دیدنونه

اوکله چې د ټولگې په توره دړه، د لیک کښلو چانسونه وموندل شول، نو یو شمېر انگلیسي الفاظو، په ځینو پښتو لنډیو کې داسې خپل سر را ښکاره کړ:

نن مې د یار د راتلو غږ دی
زه به په ډور باندې ویلکم ور ته لیکمه

نو لکه څنگه چې حالات نوي او پېچلي شوي، د ژوندانه وسایل هم ډېر او اسانه شوي او دې ته اړتیا له منځه تللې، چې یو څوک کولنگ را واخلي او د خپلې محبوبې د دیدن له پاره دېوال سوری کړي او بیا د سپین کاغذ پرمخ باندې، د پیغام استول هم لرې شوي دي، چې د هغو ځای، موبایل او برېښنالیزو رسنیو نیولی دی. په دې برخه کې، ډېر څه موبایل او برېښنالیزو رسنیو اسانه کړي دي او هغه د چا خبره، چې نن سبا، موبایل د ښایسته هنري کلمو، جملو، پرگرافونو او ادبي پیغامونو د لېږد را لېږد، یوه چټکه وسیله گرځېدلې ده. څه ښه یې ویلي دي:

د ریبارۍ چل یې اسان کړ
یاران په سکایپ کې د جانان کړي دیدنونه
چې ستا په فون کې فریاد اورم
خدای دې د سر له درده جوړه کړه مینه
د تلیفون زنگ یې خاموش دی
مور یې میره ده څه سزا به ورکوینه
پرون وعده وه ته راغلې
د تلیفون زنگ ته دې تربې ناسته ومه

څومره به ښه وي، چې د موبایل له لارې د خبرو کولو په بېتن سره، د سلام اچولو او په لنډ او ښکلي ډول د ځان او پېژندنې فرهنگ عام شي او څومره به ښه وي، چې د سلام ځوابولو فرهنگ، په ښایسته ټکیو او کلمو سره، د ټولو عادت وگرځي. د تلیفون له لارې د پیغام استولو په برخه کې، یو مثبت فکر، لوستونکي ته ورکړل شي او په لیکلو او استولو کې هم، رښتیا، شفافیت، رښتینې خواخوږي او همدردي محسوس شي. موبایل او برېښنالیزې رسنۍ، د دوستانو تر منځ، په ادبي ژبه، د جوړوونکو سلا مشورو او د ادبي او علمي پرمختگونو یوه داسې ډاډمنه وسیله وگرځي، چې د دواړو خواوو ټولنیزې ربړې هوارې کړي، هنري او ادبي ذوق یې خړوبه کړي او په لنډو، سکښتو او صیقل شویو پیغامونو سره، د ډېر ارزښت وړ قېمتي سلا مشورې او کوچني معلوماتي اوذوقي مطالب تر لاسه کړي شي. په بېړه او احساساتو یو څه لیکل، نه یواځې مقابل لوری، څنگه چې وړ وي، داسې اغېزمن کولای نه شي، بلکې کله ناکله، د یو بل چا، د آزار او اذیت سبب هم گرځېدلای شي. څرنگه چې د هنري ټوټو بنسټ ادبیات دي، نو له دې امله، د هغو په لیکلو او استولو کې هم، لازمې ځیرکۍ او دقت ته اړتیا ده او پښتانه ځوانان او پېغلې، باید د ادبیاتو هر ډگر، په هنر او کمال سره وپالي او له هغې جملې، د موبایل له لارې، د ادبیاتو په کارونه کې هم لازم غور او دقت وکړي. په حقیقت کې، موبایل، د انسان د فکر د ثبتولو او څرگندولو یوه مهمه وسیله گرځېدلې ده او ور سره د هغه د شخصیت، سلیقې او سویې، نوځکه باید په ډېر احتیاط، د موبایل په شیشه(سکرین) باندې، ښایسته ادبیات ولیکلی شي او په دې وسیله، د دوستانو او همزولو زړونه سره نږدې کېدلای شي.

□ □ □

# پښتو د سیستم له لارې ښه وده کولای شي

د میوند لیکنه

ټیټ مې مه بوله غورځنگ را باندې مه کړه
زه په دې افتادگۍ کې لوی گړنگ یم
سید شمس الدین مجروح

هره ژبه چې له غره، هوارې ځمکې ته را کوزه شوې او بیا د لیک لوست او د شعر او ادب ډگر ته راکښته شوې ده، له یو لړ ستونزو او خنډونو سره هم مخامخ شوې ده. د دغو ستونزو هوارې او د خنډونو لرې کول، بیا هغه وخت نور هم ستونزمن او څو برابره شوي دي،کله چې د هغې ژبې د اکثریت ویونکو له خوا، له خپلې مورنۍ ژبې سره، د جفا تر بریده پورې غفلت او بې پروايي شوې ده او یوه نیم چا چې، د هغې د ودې ، پرمختگ، پراختیا او پرمختیا لپاره خپلې متې را پورته کړې او خپل قلم یې خوځولای دی، بیا یې، د ځورولو تر څنگ د را پرځولو او پرمخې غورځولو کوښښونه هم شوي دي. دې زیارونو، ډېر څله انفرادي بڼه لرلې ده او د یوه سیستم په چوکاټ کې نه دي تر سره شوي. د تشویق او هڅونې پر ځای تهدید او تر فشار لاندې نیول شوي دي. کله له خاورو او ایرو را پورته شوي او کله هم، د پرمختگ په لومړیو زینو کې تر ستونې نیول شوي او غاړېوجن شوي دي. په دې لړ کې، له پخوا څخه، یو منظم او سیستماتیک میکانیزم نه دی جوړ شوی، هر څوک په خپله سویه، خوښه او سلیقه باندې کار کوي، خو نن سبا په ډله بیزه او گروپي بڼه، چې کوم علمي او څېړنیز کارونه تر سره کېږي، د هغو گټه او ارزښت ډېر زیات دی. خو څرنگه چې پښتو ژبه، له لومړۍ شېبې د مقاومت په روحیه روزل شوې او د قربانیو له ورکولو سره بلده ده، نو ځکه یې د مزاحمانو او مزاحمتونو خیال نه دی ساتلی، هر لور ته یې خپل وربښمین وزرونه غوړولي او پر افغانستان سربېره یې، سیمې او نړۍ ته الوتنې کړي او په دې ډول یې، د یوې مطرحې او د پام وړ ژبې په توگه، خپل ځان را څرگند کړی دی. نن سبا، چې نړۍ د سیستم او میکانیزم نړۍ ده، نو پښتو د گران افغانستان، سیمې او نړۍ د یوې لرغونې، بیاوړې، پراخې او متمدنې ژبې په توگه، د سیستم له لارې ښه وده کولای شي او د پښتو د زده کړې، ویلو او لیکلو په برخه کې، په خوږه ژبه تشویق او هڅونه، باید د ټولو لومړیتوبونو په سر کې راشي. د حکومتونو او ولسونو له خوا ځانگړې پاملرنه ور ته وشي، چې د سیستم له لارې ښه وده او پرمختگ وکړي. د پښتو ژبې پرمختگ، زموږ د کلتوري او اقتصادي پرمختگ د یوې برخې په توگه، لکه هغه سیستماتیک نه و او له دې امله یې، منظم او سیستماتیک پرمختگ نه دی کړی. که څه هم، په افغانستان کې، د حکومتونو او ولسونو له خوا، دې ژبې ته د پخوا په پرتله پاملرنه زیاته شوې ده، مگر په پښتونخوا کې، دا کار برعکس دی. نه د حکومتونو له لوري لازمه پاملرنه شته او نه د ولسونو له خوا، د پام وړ اغېز. یواځې ادبي ټولنو او سیاسي گوندونو څه نا څه کار کړی دی، مگر دا ټول لا په دې نه دي بریالي شوي، چې ولس، په پوره او بشپړ ډول د هغې حقوق وغواړي. د دې کار یو لامل، په دې برخه کې د سیستم نشتوالی دی او بل سبب یې، ښکېلاکي گوزارونه او ضربې دي. په دې برخه کې، لومړیتوبونه باید څه وي او هغه د چا خبره، له کوم ځای نه یې پیل کړو. ښایي د ډېرو په فکرونو کې، ډېر څه ور وگرځي، خو موږ په لومړي قدم کې، د پښتو له تدریس او زده کړې وروسته، په خوږه پښتو ژبه، د لوحو لیکلو ته لومړیتوب ورکوو. په کومه خاوره کې، چې کسبگر پښتون او رانیوونکي او اخیستونکي(پېرودونکي ـــ مشتري ،گهاک) هم پښتون وي او لوحه یې، له پښتو پرته د نورو په ژبو وي، دا یو ناورین دی. موږ په دې برخه کې د خپلو قومیانو مجبوری منو، مگر دا خو د هر یوه په وس او توان کې ده، چې د انگلیسي- او اردو په سر، منځ او یا پای کې په پښتو ژبه لوحه ولیکي، خو د یوه بل پښتانه سترگې پرې ولگېږي او یو څو ټکي یې، په خپله مورنۍ ژبه ذهن ته ورشي، ځکه چې دا د هغو مسلم حق دی. په دې ډول، دا په یوه ښه سیالۍ او غورځنگ بدلېدای شي ، په لرې واټن او راتلونکې کې به، ډېرې ښې پایلې ولرلای شي . په خپله مورنۍ ژبه د تدریس مسئله، چې د پښتنو د بچیو پیدایشي-او طبیعي حق دی، له همدې لارې، هوار بدی شي. کله چې، د پښتنو په بورډونو او لوحو کې پښتو وځلېده او خپل مقام یې خپل کړ، بیا یې د ښوونې او روزنې په ډگر کې هم خپلولای شئ. که د ورځې، د پښتنو په هر ښار کې، لسو لوحو ته پښتو ورجگه شي، په یوه اونۍ کې، په هر ښار کې (۷۰) لوحې پښتو کېدای شي او په یوه کال کې د پښتنو په ټولو ښارونو کې، د لوحو رنگ او رخ بدلېدای او هر لور ته د پښتو ژبې خوشبويي خپرېدای شي. له دې پرته، پښتو په پښتونخوا کې، د مرگ په پوله پرته ده او جنازې ته یې دښمنان کټ تیاروي، مگر دا ارمان به دوی له خپل ځانه سره گور ته وړي او پښتو به ور ته، په خوند ـ خوند او کړس ـ کړس خاندي.

څېړندوی محمد اصف احمدزی

# په لنډيو کې ناهيليتوب او د ښځو محروميتونه

**سريزه**

په پښتو ادب کې هره لنډۍ يو بشپړ الهام لري، چې د ځانګړي پيغام، درد او عاطفي لرونکې وي. په لنډيو کې د پښتني ټولنې ژوند انعکاس شوی دی، همدا لامل دی له يو شمېر ناهيليو، ترخو حقيقتونو او نـادودو سره، چې پښـتنې مېرمنې مخ شـوې، هغوی يې بيـا پروړانـدې خپـل غبرګونونـه او احسـاسـات په لنډيو کې څرګند کړي دي، چې په لنډه توګه تر خپلې وسـې پورې، په لنډيو کې ناهيليتوب او په ټولنه کې د ښـځو پر محروميتونو باندې خبرې شوې دي.

لومړی: په لنډيو کې ناهيليتوب

دا يو واقعيت دی، چې په ژوند کې خوښـي او ناخوښـي شـتون لري او کله چې خوښـي وي، نو ژوند تازه او له هيلو ډک وي؛ خو که خوښـي له ژوند څخه کډه وکړي، نو پردې مهال د انسان ژوند له خپګانه ډک او نومونړی له ګڼو ناهيليو سره مخ وي.

که لنډيو ته نظر وکړو، په ډېريو کې يې ناهيليتوب له ورايه ښـکاري، دا ځکه چې لنډۍ د سـوي زړه يوه ناره ده، چې کله زړه وسـوځي او يا ناهيليتوب زړه ته لاره وکړي، نو دغه له اعجازه ډکه وينا منځته راځي، چې همدغه موضوع په لاندې کرښو کې له بېلګو سره بيان شوې ده.

دا يو حقيقت دی، چې لومړی د خپل محبوب د لاسـته راوړلو لپاره ډېره هڅه کيږي، خو که په لاره کې خنډونه رامنځته شي، نو له يو شمېر نورو لارو، لکه تعويذ کولو څخه کار اخيسـتل کيږي، ترڅو خپل مطلب ته ورسيږي، لکه په دې لنډۍ کې چې راغلي دي:

**جانان په هېڅ نه رضا کيږي**
**د دروغجن ملا دې ورک شي تعويذونه**

ترې زړه صـبرول پيلوي او پر خپل زړه لو يه تيږه ږدي، ځکه چې هغه اوس د بل چا شوې ده:

**زړګيه صبر دې په خدای شه**
**په هغه ګل چې نازېدې د بل چا شونه**
**زړګيه صبر شوې که نه شوې**
**که صبر نه يې له ګړنګ دې غورځومه**

همدا لامل دی، چې کله ناهيلي پای ته ورسيږي او د عاشـق پر لور هېڅ پاملرنه ونه شي، ان داچې د ځنکدن پرمهال هم زړه پرې نرم نه شي او پوښـتنه يې ونه شي، نو په دې وخت کې بيا د زړه له تله داسې غبر راپورته کيږي:

**په زنکدن کې مې رانغلې**
**د جنازې لاندې مې مه څه مخ تورنه**

په يوه بل ځای کې بيا هغه کس چې له مرګ او ژوند سره لاس او ګرېوان دی او په ژوندانه کې يې د وصـلت ارمان نه دی پوره شـوی، له خپل ياره دا تمه لري:

**په مرګ به مړ راپسې نه شې**
**دا لباسي اوښکې د هرچا په مخ ځينه**

په يوه بله لنډۍ کې بيا پيغور ورکول شـوی او ويل شوي، چې کله يې چې په ژوند کې په کار ورنغلې، نو که اوس يې پر قبر منجاور هم شي، نو کومه ګټه به ورته ونه رسيږي:

**چې په ژوندون مې په کار نه شوې**
**که مې د قبر منجاور شې څه دې کړمه**
**چې په دنيا کې په ښه رانغلې**
**بيا مې د شناختو په سر مه وهه لاسونه**

دويم: په لنډيو کې د ښځو محروميتونه

په ډېری پښـتنو سـيمو کې يو شـمېر ناوړه او منفي دودونه شـته، چې د هغو له ډلې څخه يو يې هم له خپلو لوڼو او خويندو سره د هغوی د ودولو پرمهال مشوره نه کول دي، له هغوی څخه پوښتنه او ورسره

**ټپل مې وهه بنګړي مې مات شول**
**مور مې مېره ده ما په کور کې نه پرېږدينه**
**ځان به په ډک سيند کې لاهو کړم**
**ستا د سپېره کور به ونه کړم ارمانونه**
**د غرونو ترخې مې خوراک وای**
**خوراک مې نه وای د موزي د کور غمونه**
**کور دې د غم بنديخانه ده**
**د خوشحالۍ باران په کال کې نه راځينه**
**بنګړي د ټولې دنيا دود دي**
**زه له نيستمن جانانه نه غواړم دودونه**
**توتان پاخه ممانې تورې**
**زه د موزي د ډوډۍ څه پروا لرمه**
**قربان قربان د دادا کوره**
**له ډکه شکوره به يوازې تاوېدمه**
**باهو مې و په لاس مې نه کړل**
**د موزيګي په کور کې اوسم تش لاسونه**
**د بنې ترس راباندې تېر شو**
**زه د دوزخ د لمبو څه پروا لرمه**
**د بنې غبر راباندې وشو**
**لکه روټۍ په تناره خمسوه شومه**

همدا ده چې يو شمېر مېرمنې بيا په ډېره عاجزۍ دا غوښتنه کوي:

**پر مخ مې مه وهه ظالمه**
**د اوښکو ډکې سترګې چاته واړومه**
**تا چې په مخ څپېړه راکړه**
**د دلاسي سړي مې نشته وبه مرمه**

يوه بله سـتونزه چې پښـتنې مېرمنې ډېرې ځوروي، هغه د بېوزلې له امله بهرنيو هېوادونو ته د پښـتنو نارينه وو مساپري ده، چې کله کله دا سې هم پېښې شـوي، چې له واده څو ورځې وروسـته يې يار په سفر تللی او کلونه کلونه بېرته نه دی راستون شوی. له دغسې حالاتو سره چې کله ښځې مخ شوې، نو



**د استاد ګل پاچا الفت غزل**

چاچې ايښی دا شين خال ستا په جبين دي
زما زړه هم د هغه د لاسـه شـين دی

ستا امېل کښې يې سل زړونه دي پېيلي
چا جوړ کړی سـتا د غاړې لونګين دی

جوړه شـوې يې د لمر لـه پلوشـو نـه
سـتا د عشـق پر حرارت مې دا يقين دی

سـور سـالو دې سره لمبه ده نه پوهېږم
که زما د زړه په سرو وينو رنګين دی

د جمال پرښـتې تـه چې جوړولې
ورلېږلی چـا سـلام چـا آفرين دی

معجزه تـه د قـدرت او د خلقـت يې
په رښتيا چې خدایؐ احسن الخالقين دی

خدایؐ دې ساته په امان له بدو سترګو
دا دوعـا د پښـتـو زمـونږ آمـين دی



ارواښاد ملنګ جان

**د چشمانو مې...**

د چشـمانو مې بهيږي نن خونـاب
چې مې حـال د زمـانې وليـد خراب

صداقت او ننګ ناموس دنيانه ورک شو
هر سـړی خوځوي ژبـه پـه کـذاب

د سـاداتو سـالکانو عزت ورک شـو
عزتمن دي چې لري چنـګ و ربـاب

هيڅ صـفت به د عالم چيرې وانه ورې
د پيمخو صـفت کيږي بې حسـاب

شان پو شان د زمانې ګرځي شړۍ کې
د شـړۍ خاوندان اغوندي کمخواب

دا ګردش د زمـانې دی ملنـګ جانـه
کارغه ناست دی په چګس باز په تراب

د تعویذ کولو او نورو لارو چارو په کار اچولو سره، که موخه ترلاسه نه شي، نو بیا ناهیلي زور اخلي او معشوق ته رسېدل دومره گرانېږي، لکه ځمکې ته د اسمان راکوزېدل.

**جانان مې لاړو اسماني شو**
**اسمان چې ځمکې ته راځي قیامت به وینه**

په دې وخت کې بیا له خپل نصیب او تقدیر څخه هم گیله کېږي، چې د دوو مینانو ترمنځ حایل گرځي او نه پرېږدي چې سره یو ځای شي:

**چې چېرته ته وای هلته زه وای**
**نصیب تقدیر مې له تا لرې گرځوینه**

دا یو معمول ده، چې کله هم څوک ناروغ شي، نو پر زړه یې همدا تېرېږي، چې خپل زړه ته نږدې کس به یې پوښتنې ته ورشي، چې په ترخ کې به یې له دیدن څخه برخمن شي او د ناروغۍ دردونه به یې هم له یاده ووځي، خو بې پروا اشنا یې پوښتنه نه کوي، دا خبره په لنډیو کې داسې بیان شوې ده:

**په ناعلاجه مرض پروت یم**
**په اشنا دوه قدمه گران دي نه راځینه**
**خلک مې ټول تپوس له راغلل**
**هغه رانغله چې یې پروت له غمه یمه**

ویل کېږي، چې خلک له غمونو سره درې ډوله چلند کوي، یوه ډله خلک یې په اوښکو او به کوي، بله یې په زړه کې اچوي، چې بیا ترې رنځ جوړېږي او بله ډله یې نورو ته په ویلو سره وېشي۔ خو د ناهیلي کس پر زړه دومره ډېر داغونه اېښودل شوي وي، چې په هغه کې بیا ددې وس هم نه وي پاتې، چې د معشوقې د جفاگانو کیسې چا ته وکړي:

**په زړه یې ډېر داغونه راکړل**
**ستا د جفا کیسې به چا چا ته کومه**

دلته بیا چې کله هم خپل اشنا وریادېږي، نو پرته له دې چې گوښې خپلې اوښکې تویې کړي، بله چاره نه لري:

**چې کله کله را په یاد شې**
**دېوال ته کېنم ځانته غلی وژاړمه**
**په زړه به لویه تېره کېږدم**
**جانانه تا نه به یې ورو ورو صبرومه**

په دې لنډۍ له خپل یار ناهیلي اخري برید ته رسېدلې او رسېدل ورته ناشوني شوي دي، نور نو سلا کول، یو ډول شرم او بې غیرتي گڼل کېږي. نو کله هم چې پښتنې پېغلې له دغسې یوه حالت سره مخ شوې، نو خپل احساسات یې په لنډیو کې ښکاره کړي دي:

**چې خویندې کښېنې وروڼه ستایي**
**چې وروڼه کښېني خویندې بل ته ورکوینه**
**تر شمل پورې دې وادہ کړم**
**تر شمل پورې څوک غوایه نه ورکوینه**
**تورې تیرا نه دې کړم تېره**
**ما به مې خپلې مور ته څوک ورسوینه**
**تر لې تربور دې مېړه مه شه**
**په لښتو غنو دې وهي بیا دې شړینه**

پښتنې پېغلې چې کله د پلار پر کاله ناستې وي، همدا ارمان کوي، چې کله به یې ډولۍ راځي او هغه به د بخت کاله ته وړي، خو چې بیا واده شي، د پښتني ټولنې ناوړه دودونه او پر ښځینه وو بېلابېل ظلمونه دا خوارکۍ دې ته مجبوره کوي، چې د پېغلتوب ارمان وکړي او هغه ورته پادشاهي ښکاري:

**پېغلتوب نیمه پاچاهي وي**
**ورک ناوېتوب شه چې دوه نیمې ورځې وینه**

خو په یو شمېر سیمو کې بیا پښتنې نجونې د پلار په کور کې زړې شوې دي، ځکه چې یو شمېر خلک نه غواړي، چې هر چا ته خپله لور او خور ورکړي او یا دا چې کله ناکله د پلار او یا کورنۍ د کړنو له امله څوک دا زړه نه ښه کوي، چې نجلۍ وغواړي، هماغه وي، چې سر یې په کور کې سپین شي، په دغسې حالاتو کې چې پېغله ډېره وځپل شي، نو خپل غږ داسې اوچتوي:

**د خدای په لویه پاچاهي کې**
**زه کم نصیبه لا بې یاره ناسته یمه**
**ټولې همزولې مې واده شوې**
**زه بدقسمته د پلار کور کې ناسته یمه**
**سر مې د پلار په کور کې سپین شو**
**لکه ډوډۍ په تناره وسوم مینه**

یو بل محرومیت چې پښتنې مېرمنې ورسره مخ دي، هغه د خپل خاوند په کور کې له هغوی سره ناوړه چلند دی، هغوی بې ارزښته گڼل کېږي، غوښتنو ته یې پام نه کېږي او ان وهل کېږي هم. په لاندې لنډیو کې دغه ترخه واقعیتونه داسې یاد شوي دي:

خپل د زړه براس یې په لنډیو کې وېستلی او دا ترې معلومېږي، چې د ژوند د ملگري نه شتون، پښتنې مېرمنې څومره ځوروي:

**د هندوستان سفر دې ځار شه**
**زما په تور اوربل کې سپین ولگېدنه**
**مساپري سخته خواري ده**
**زما زاري ده یاره مه ځه له وطنه**
**د مساپرو یاري مه کړه**
**تا به د زړه په رنځ اخته کړي دی به ځینه**
**زما د لیرې وطن یاره**
**رنگ مې دې هېر دی په نامه دې ناسته یمه**
**مساپري دې ډېره وکړه**
**راځه راځه روزي به خدای رار سوینه**
**پالنگ مې جوړ کړ ته رانغلې**
**لکه منگور په کې یوازې تاوېدمه**

او دلته بیا یوې پښتنې مېرمنې د اختر لپاره چمتووالی نیولی دی، چې گوندې یار به یې راشي:

**سبا اختر دی یار مې نشته**
**له گانې ډکه به د چا غېږ ته ورځمه**
**دا ستا دیدن زما اختر دی**
**ته مساپر یې زه به څه کړم اخترونه**

**پایله:**

په پښتنې ټولنه کې چې ښځې کله هم ناهیلې شوې او یا هم له یو شمېر ناوړه دودونو سره، چې زموږ له دین سره هم اړخ نه لگوي، مخ شوي؛ نو هغوی یې بیا پر وړاندې خپل احساسات په لنډیو کې په ډاگه کړي دي.

د ناهیلیتوب په اړه باید وویل شي، چې لومړی خو باید په ژوند کې ناهیلیتوب ته ځای ورنکړل شي او له ټولو هغو څیزونو څخه چې د ناهیلۍ لامل گرځي، ډډه وشي، ځکه ناهیلي ژوند په ټپه دروي، خوځښت له منځه وړي، روحي ستونزې راولاړوي، انسان د راتلونکي لپاره هېڅ پام نه کوي او پرته له کړاوونو نور څه له ځان سره نه لري؛ خو له دې سره سره که څوک د ناهیلیو ښکار شي، نو باید نوموړې ستونزه په ډېر حکمت سره حل کړي او د راتلونکي په هیله لاس په کار شي.

همدارنگه باید د پښتني ټولنې د هغو ناوړو دودونو پروړاندې مبارزه وشي، چې پښتنې مېرمنې د ژوند په ډگر کې ورسره مخ کېږي، ترڅو نېکمرغه او هوسا ژوند په برخه شي.

دکوچنیانو لپاره کیسه

# د ځواني راز

بریالي پرون خپل برى لیک تر لاسه کړ. د بریالي پلار هم، د خپل زوی د برى لیک د اخیستلو په وخت کې، دده ښوونځي ته راغلی و. هغه که څه هم، د پاخه عمر سړی و، مگر په ظاهره، ډېر تکړه او پیاوړی ځوان معلومېده. دلته چې څوک را غونډ شوي وو، ټولو هغه ته کتل او د بریالي د پلار په باره کې یې، خبرې کولې. د دغو خلکو په منځ کې، زموږ د ساینس ښوونکی هم ولاړ و. یوه سړي له هغه نه، د بریالي د پلار په اړه پوښتنه وکړه چې، ولې دومره ځوان او تر او تازه معلومېږي؟!

ښوونکي په ځواب کې ور ته وویل:

- د بریالي پلار، ډېر پاک، اودس او لمونځ کوي. هره ورځ، له ناغې پرته، جومات ته ځي.

دغه سړي، بیا وویل:

نور وا یه، څه خوري، څه څښي او د خپل ژوند پروگرام یې څه ډول نیولی دی؟!

ښوونکي بیا داسې ځواب ورکړ:

- هغه د ډاکترانو په مشوره عمل کوي. ډاکترانو ور ته ویلي دي، چې له هر اوداسه وروسته، د اوبو څښل شفا دي، نو ځکه په ۲۴ ساعته کې، ښې پوره اوبه څښي. مناسب خوراک کوي او ډېره ډوډۍ نه خوري. که هره ورځ نه وي، په اونۍ کې خو، د یوې منې خوړل نه قضاکوي. نور زیاتره سبزیجات او تازه مېوې خوري. هره ورځ منظم سپورت کوي، په ټاکلي وخت ویده کېږي، د خپلې پاکي او صفایي، خاص خیال ساتي، بې ځایه اندېښنې او سوچونه نه کوي!

دغه سړي، خپل سر، د تایید په بڼه او اشاره باندې و ښوراوه او د دغه ښوونکي خبره یې، تایید کړه. هغه ته یې، دا هم وویل:

- چې داسې ده، نو موږ هم باید، هره ورځ منظم ورزش وکړو ، پاکې اوبه وڅښو، ښه خواړه وخورو ، پاک کالي واغوندو. بې ځایه اندېښنې او سوچونه ونه وهو. تر ټولو بیا دا خبره ډېره مهمه ده چې، د اوداسه او لمانځه په برخه کې، ډېر پام او فکر وکړو.

ښوونکی:

څومره به ښه شي!

م. زرمتی

ت. م. یاري حسیر

## یوازیتوب

**یواځې ناست یم غمونه شمېرم**
**د زړگي پټ شان زخمونه شمېرم**

**ښه دي چې پټ دي زړونه سینو کې**
**پټ د اسرارو رمزونه شمېرم**

**ښه پرې پوهېږم له شمېر وتلي**
**بیا هم بې شمېره دردونه شمېرم**

**چې ډېر بې ځایه په ما تېر شوي**
**دا ضایع شوي عمرونه شمېرم**

**(یاري) یاري کې بنگړي ماتېږي**
**د ماتو زړونو قبرونه شمېرم**

څېړنپوه محمد عارف غروال

## د زمري اته ویشتمه

**د زمري په شنو زمریانو دې سلام وي**
**د دې ورځې پر غازیانو دې سلام وي**

**دغه ورځ ده ټولو ورځو کې ممتازه**
**د امان پر پیروانو دې سلام وي**

**د زمري اته ویشتمه چې یادېږي**
**د هغې پر اتلانو دې سلام وي**

**چې انگریز یې په گونډو کړ او سرټیټی**
**نو پر ټولو افغانانو دې سلام وي**

**چې د دین او د وطن په مینه مست وي**
**پر دا هسې انسانانو دې سلام وي**

**د وطن د پاکې مینې امتحان کې**
**په کامیابو شاگردانو دې سلام وي**

**د غروال د غرو بازانو حملې وکړې**
**ددې غرونو په بازانو دې سلام وي**

# زېرى

پښتو ادبي او ټولنيز ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې

مسؤول مدير: څېړنوال محمدنبي صلاحي

مهتمم: څېړندوی عبدالاحد منگل

کمپوز او ډيزاين: م. ص.

zerai1316@gmail.com

facebook.com/Zeerai1316

۰۷۹۹۸۶۱۲۹۹

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارگان

د يوې گڼې بيه: پنځه افغانۍ

پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار،

افغانستان - کابل ـ

په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپیناوی، په خپله د ليکوالو په غاړه دی.


## د خدمتگار د زړه آواز (منظوم کليات)

څېړنپوه ع. ب.

د استاد خدمتگار د زړه آواز يا منظوم کليات لومړۍ او دوهمه برخه د ۱۳۹۰ هـ. ل. کال د چنگاښ په لسمه نېټه د ليکوال په مالي لگښت په ۱۰۳۷مخونو کې، په افغان مسلکي مطبعه کې چاپ شو.

دغه شعري کليات، چې رحمان بابا(عليه الرحمة) ته اهدا شوی دی، د رحمان بابا په يو بيت سره پيلېږي:

په ښه خوی له بدخواهانو بې پروا يم
په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا يم

اســتاد د رحمان بابا د غزل ددې بيت په اړه ليکي: «دغه بيت هم زما، ستا او د هر انسان د ښه ژوند دسمون لپاره د لیارې روڼ مشال کېدای شي، پوره غزل او بشپړ ديوان دې يې لا پر ځای وي.»

د رحمان بابا له غزل نه وروسته، د کتاب د ليکوال له خوا (له لومړي شعر څخه تر وروستي شعر پورې) ترسرليک لاندې يوه اوږده سريزه، چې ۳۴ مخونه دي، چاپ شوې ده.په سريزه کې استاد خپل ژوند، تعليم او شعر، لوستلو او ويلو خاطرات او کيسې ليکلي دي.

همدارنگه، په دې سريزه کې، استاد خپلې شعري مجموعې، چې شمېر يې، دولسو کتابونو ته رسېږي، د هغو په اړه معلومات وړاندې کړي دي.

نوموړي حضرت صاحب، پر ما او خپل زوی، فضل محبوب مجددي باندې د ميرزا عبدالقادر بيدل د ديوان (د کابل د عنايت مطبعې چاپ) هم د ترجمې سره په درسي ډول پيل کړ او ماته يې لومړی د علامه اقبال لاهوري «پيام شرق»، بيا وار په وار د نوموړي د فارسي اشعارو نور کتابونه هم د مطالعې له پاره راکړل او په دې توگه دعلامه اقبال د فارسي شاعرۍ ټول آثار مې له نظره تېر شول.

«پيام شرق»، «جاويد نامه» او «مسافر» مې مکرر وکتل او د هغوی د افادې له نوي توب څخه مې ډېر خوندونه اخيستل...»

اســتاد خپل لومړی شعر، په ۱۳۲۴ هـ . ل کال کې ليکلی دی او د دې شعر په اړه د ليکلو او چاپ کيسه داسې بيانوي: «د ۱۳۲۳ او ۱۳۲۴ هـ . ش کلونو د اوړي په ميا شتو کې، زه په کابل کې او سېدم، هره ورځ به مې د «انيس» ورځپاڼه، له بازاره اخيستله او په هغې کې به مې د پښتو او فارسي شعرونه لوستل. د ۱۳۲۴ هـ. ش. کال د جوزا په مياشت کې، ما خپل لومړی شعر «د وطن پسرلی» تر عنوان لاندې وليکه، «انيس» ته مې ولېږه او ډېر ژر چاپ شو.

ما خپل نوم او تخلص داسې ليکلي وو؛ (عبدالله

## د ادبي او فرهنگي خبرونو کرونولوژي

ښېړندوی محمد اصف احمدزی

**پښتو د "تنزيل" د ژبو په کتار کې شامله شوه**

پښتو ژبه د نړۍ مشهورې قرآني وېبپاڼې د ژبو په کتار کې د چنگاښ مياشتې په ۷مه شامله شوه.

تنزيل د قرآني معلوماتو يو وتلی ويبسايټ (www.tanzil.net) دی او ويل کېږي، چې په ۲۰۰۷ ز.کال کې يې په دې نيت کار پيل کړی دی، چې په معياري يونيکوډ (Unicode) متن خپلو مينه والو ته د قرآن کريم متن وړاندې کړي.

په دغې وېبپاڼه کې، اوس د پښتو ژبې په گډون د نړۍ د لسگونو ژبو ترجمې په آنلاين بڼه پرتې دي، چې ويونکي يې کولی شي، چې په کيڼ لوري کې د ژبې په بدلون سره، له اصلي متن سره په خپله ژبه د قرآن کريم ترجمه وگوري.

افغان ديني عالم مفتي عبدالولي، چې له تنزيل سره يې په دې برخه کې کار کړی، وايي چې: له يو کلنې همکارۍ وروسته يې، د خپل کار ثمره وليدله. نوموړی د کونړ ولايت د نورگل ولسوالۍ او سېدونکی دی، چې په ۱۹۹۵ز. کال يې له پېښور پوهنتون څخه په ا سلامي علومو کې ماستري ترلاسه کړې ده.

دا په ۲۰۱۶ ز.کال کې د انټرنېټ په نړۍ کې، د پښتو ژبې له پاره دوهمه لويه لاسته راوړنه ده، چې په گوگل کې د پښتو په شاملېدلو پسې کېږي. گوگل ترجمان د روان کال د فبرورۍ په نيمايي کې پښتو د خپلو ژبو په کتار کې شامله کړه. (سرچينه: تاند وېبپاڼه)

**د خوشحال خان خټک غږيز کتاب**

دا د "بي. بي. سي" پښتو د هغه راډيويي پروگرام نوم دی، چې په کې د پښتو ژبې د ستر شاعر شعرونه په لومړي ځل په غږيزه بڼه خپرېږي. دا شعرونه د داوود جنبش او زمزمې نيازۍ له خوا لو ستل کېږي او پروگرام يې هره جمعه، د افغانستان په وخت د شپې په لسو بجو له بي. بي. سي پښتو راډيو خپرېږي. د دې لړۍ پيل د روان ۱۳۹۵ ل. کال د ورې له ۲۴مې پيل شوی، چې تراوسه پورې (د چنگاښ ۳۱مه) يې ۱۶ برخې خپرې شوې دي.

**پکتيا کې د اختر په وياړ مشاعره وشوه**

د اختر په وياړ دغه مشاعره، د چنگاښ په نهمه ما ښام مهال جوړه شوه، چې په کې د دې ولايت د مرکز او ولسواليو گڼ شمېر شاعرانو، ليکوالو او د ادب مينه والو برخه اخيستې وه.

مشاعره د سحر سپورتي، فرهنگي او ټولنيز مرکز له لوري ترتيب شوې وه، چې شاعرانو په کې د اختر ترڅنگ د سولې په اړه شعرونه ولوستل.

استـــاد دهغو لومړیو نظمونو پـه اړه، چې پـه ما شومتوب کې یې لو ستلي او یا یې اورېدلي، په دې سریزه کې داســـې یادونه کړې ده: « د چهار باغ د خانقاه په جومات کې ملا عبدالرســـول اود حضرـــت صـــا حب په جو مات کې ملا محمد حفیظ اســـتاد به په خطبو کې، زیاتره هغه فارسي منظو مې اورولې، چې زمـا د پلار مـامـا، ملا احمدجان جوړې کړې وي.

ډېر وروســـته بیا زما پلار د جلال آباد له ښـــاره یو کتاب راته راوړ، چې (مجموعة الخطب) نومېده او پـه هغې کې خطبې او پـه خطبو کې عربي، فارسي او پښـــتو نظمونه وو.د چا په کور کې به چې زوی پیدا شو، نو په درېمه ورځ به د (نشرح) محفـل جوړېـده. دکوڅې نـه بـه ملاد مخـه او ماشومان هلکان به ورپسې وو.

ملا به په لوړ غږ، په ترنم نشرح لوستله. د نشرح د منظومې محتوا به دعا او منا جات و او د هغې په ردیف کې، د (آمین) کلمه راتله، نو ټولو هلکانو به هم په لوړ غږ یو ځایي، دغه کلمه تکرار کړه».

اســـتاد د لومړي ځل له پاره د خوشـــحال خان ختـک، عبدالقادر خان ختـک، میرزا عبدالقادر بیدل اوعلامه اقبال لاهوري له شـــعرونو سره د چهار باغ صفا حضرت فضل معشوق مجددي په مرســـته او همکارۍ آشـــنا شـو او په دې برخه کې خپل خاطرات داســـې بیانوي: «د چهار باغ صـــفا حضرت فضل معشوق مجددي صاحب له خپلې کورنۍ کتابخونې څخه، ماته د کندهار د ۱۳۱۷ ه .ش چاپ ( د خو شحال خان ختـک مرغلرې) او د (عبدالقادر خان ختـک دیوان) کتابو نه هم

بېچاره) او په انیس کې داسې چاپ شوی و: (ښاغلی عبدالله خان بېچاره).

په دې سره، زه له خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځایېدم ، چې د شـــعر په برکت، ما بېچاره ســـړي ته دا عزت راکړی شـــوی دی، چې له نا مه سره مې (خان) هم لیکل شوی دی او (ښاغلی) هم.

د اســـتاد خدمتګار منظوم کلیات په دوو ټوکونو کې ۱۳۲۴ ه. ل. کال نه تر ۱۳۸۹ ه. ل. کا له پورې، چې نږدې شـــپېته کاله کېږي، په کرونولوژیک ډول، په ۱۰۳۷ مخونو کې چاپ شوی دی.

په دې برخه کې، د بېلګې په ډول، دهغه لومړی شعر، چې په ۱۳۲۴ ه. ل. کال کې لیکل شوی دی، وړاندې کوم:

## د وطن پسرلی

پسرلی شو وطن هره خوا زرغون دی
ښه هوا او ښه فضا څه ښه مضمون دی

رنګ په رنګ ګلان باغچو کې غوړېدلي
بلبل ګوره چې په ګل باندې مفتون دی

خلک ټول په پسرلي باندې خوشحال دي
بې له ما نه چې احوال مې د مجنون دی

د بهار پسې خزان راځي اې یاره!
مقرر په دې دنیا داسې قانون دی

باید وویل شي، چې د مشاعرو جوړول، د شاعرانو او لیکوالو د اړیکو ټینګولو او د پښتو ژبې د غني کولو له پاره اړین او ګټور دي.

**«د پوهاند رښتین ژبنیو څېړنو ته لنډه کتنه» تر سرلیک لاندې علمي – څېړنیز کنفرانس ترسره شو**

د افغانســـتان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښـــتو ژبې او ادبیاتو انســـتیتوت علمي غړي څېړندوی زکریا ملاتړ له خوا «د پوهاند رښتین ژبنیو څېړنو ته لنډه کتنه» تر سرلیک لاندې علمي – څېړنیز کنفرانس، د چنګاښ د میاشتې په نهمه نېټه وړاندې شو.

په دې علمي نا سته کې، چې لـسګونو پوهانو او ا ستادانو په کې ګډون کړی و، د اړوندې مو ضوع په تړاو بحث و شو او ښاغلي ملاتړ د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه وویل.

**په کابل کې انځوریز نندارتون جوړ شو**

د (همګی مو یک برار و یک خواریم) تر سرلیک لاندې انځوریز نندارتون ،په کابل کې د ملي ثبات په مرکزي دفتر کې د چنګاښ په ۲۶مه، مازدیګر مهال ترسره شو.

د ثبات ټولنې مشر ضیاءالحق امرخېل وایي: (( دا انځوریز نندارتون، په هېواد کې د ورونو قومونو ترمنځ د وحدت او یو ځای کېدو کولو له پاره یوه هڅه ده.))

ښاغلي ارباب وویل: موږ د ځوان نسل په توګه غواړو، پخوانۍ فاصلې ختمې او د یوه افغان تر نوم لاندې واحد افغانستان جوړ کړو او په دې برخه کې د ټولو لاسنیوي ته اړتیا ده.))

د غونډې ویناوالو یاد شوی نندارتون، د وخت ا ساسي ضرورت یاد کړ او په دې ډول پروګرامونو کې د ټولو قومونو د ا ستازو او ۃشرونو ګډون یو مثبت کار او د ملي یووالي لپاره د عامه خلکو د کلکې ارادې او هوډ څرګندوی وباله.

د پروګرام په پای کې راغلو ګډونوالو، د حمدالله ارباب له خوا کښـــل شـــوو انځورونو څخه لیدنه وکړه او د نوموړي نندارتون تود هرکلی یې وکړ.

# آزادي تـــر بـــادشـــاهـــیـــه لا تـــېـــری کـــا
# چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي

**حضرت خوشحال خان ختـک**

---

# نه به خوشحال شي نه به وخاندې په مـــیـــنه
# تل خوري به د زړه وینه د دوو ښـــځو خاوند

**غروال**

## نورو ته، د پښتو ژبې د زده کړې
## اسانه لارې چارې کومې دي ؟!

له درنو لوســـتونکو نه، د تېر په څېر، یو ځل بیا، په ډېر درنښـــت سره هیله کېږي، چې د پورتنۍ موضـــوع په اړه مضـــمون را ته ولیکي، که دا مقاله کوچنۍ هم وي، خو چې دقیقه او علمي وي، «زېری» یې په ورین تندي مني.